## د جنګ، سنګر، مورچل او توري په اړه ټپيزې

د آزادۍ جګړه اوږده شـــوه
لاړله ورځ راباندې شپه شوه
له هر ځای جوړه هدیره شوه
که د زلمو نه پوره نه شـــوه
افغانستانه جینکــــــۍ به دې ګټینه

پروت لکه ښځه په کاله شـــوې
نه د دغه نه د هغـــــه شـــــوې
خاورې اېرې شولې نور څه شوې
که په مېوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګـــۍ ته دې ساتینه

هره انجلۍ د وطن زوی کړي
ښه غیرتي یې ته رالوی کړي
په شهامت باندې یې پوی کړي
زلمو سنګر کې وینې توی کړي
پېغلې رندې کړې چې کونډ توب نه قبلوینه

اور به یې پور په کاله کړي
زور د ښ[illegible] به ژړا به کړي
له [illegible] به بې خوبه کړي
جانان به ولې توره نه کړي
تر نیمایي مورچله زه ورسره ځمه

په عزت لاړو رسوا راغی
ډک ملا بند تر ملا راغی
په ټیټو سترګو تر ما راغی
جانان له جنګ نه په شا راغی
په پروني ورکړې خوله پښېمانه یمه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دښمنانو باندې برید که
ختم د وخت هر یو یزید که
وطن دې پیر ځان دې مرید که
ته په سنګر کې ځان شهید که
زه به سور شال ستا په مزار وغوړومه

چې ګردنۍ یې تر ملا ده
چې یې په لاسو کې سلا ده
په دښمن جوړه یې غوغا ده
زما خولګۍ د هغه چا ده
چې غلامۍ ته یې طلاق ورکړی وینه

ورک شه میراث او ورکې شومې
د برې لار کې د برې لومې
شته دي ازغي او هم پیچومې
تورې وهه برې به مومې
که برې نه وي ځوانان تل په تورو مرینه

په سرو لمبو باندې ګډیږي
له خپله سره پرې تیریږي
سل وارې مري خو ژوندي کیږي
په مورچل هغه سړي خیږي
چې یا مین وي یا یې پېغله ناسته وینه

وینو له دارو فوارې کړې
لوړې ژورې یې پرې سرې کړې
ځوړ د سلګیو آذانګې کړې
ټوپکو بیا غاړې کړې کړې
ګولیو یوړل د ځوانانو لړمونونه

ځوړ د سلګیو پورته کیږي
د زمکې سر واړه خوځیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجونې په زړه کې هوسيږي
چې ډول وهي ځوانان ګډيږي
يا به لښکر وي يا غدۍ د ژنيو وينه

بند او زندان مې ماتواى شو
بار مې د غشو په سر وړاى شو
سر مې دښمن نه پريکواى شو
که جنګ د تورو واى ما کړاى شو
د نصيب جنګ دى وارخطا ولاړه يمه

## د سفر او مسافر په اړه ټپيزې

خداى خبر نن ولې ړنده شـــوم
ښه وينښه ناسته وم ويده شوم
تاته درتلم ځانته ستنه شوم
په سفر تلې درجګه نه شوم
ما دې خداى شله کړي په دواړه ځنګنونه

په خپل ښايست دې ورحمېږه
ډېره مې ښنګ ته مه ودرېـــږه
راته په سترګو کې موسېـــږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند په بند مه رانـــه تاوېـــږه
که مسافر شوم بیا به نه درځي خوبونه

ژوندی دې غوا ړمه له خدایه
د سفر لوری دې راښایه
ته که نږدې ځې او که ورایه
چې چېرې ځې حال راته وایه
چې دې خالي دربار ته نه کړم سلامونه

عمر به دغسې خپل ډېر کړم
یو څه موده به دې پاک هېر کړم
زړه به په پړو کې راګېر کړم
یو کال به بل وطن کې تېر کړم
چې ستا د حُسن دوران تېرشي رابه شمه
• * * * * * * * * * * * * * *

ژوندی دې غوا ړمه له خدایه
د سفر لوری دې راښایه
ته که نږدې ځې او که ورایه
چې چېرې ځې حال راته وایه
چې دې خالي دربار ته نه کړم سلامونه
چې یې په ناز رالویولې

اخر دې وکړې کانې خپلې

الله دې مړه که نازولې

چې مسافر په کاڼو ولې

جینۍ لمن به دې خدای نه زرغونوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافري په ښه زړه وکه
شپه ورځ په ځان باندې يوه که
زړه کې د ياد بله ډېوه که
ته په لوستلو صرفه مه که
نجونو پېغور راکړ چې يار دې امې شونه

ما ويل رخصت به رانه غواړې
د پالنګ سر ته به ولا ړ يې
جګې به يوسو سره غاړې
ارمان مې دادی رانه لاړې
ولې مې ټينګ په غېږ کې نه نيوې مينه

په نه خبره مرور دی
چرته به وي اوس مسافر دی
ما پرې د ځانه ډېر باور دی
يار مې د بنو سوداګر دی
ماته به راوړي بنوڅې د خيال شالونه

د خدای د نور يوه جلوه يې
په کايناتو راخوره يې
تل مې په زړه کې راسره يې
ته به د کوم وطن ډېوه يې
زه د هجران په تروږمۍ کې ناسته يمه

امبار دې خاورې په وعده کړې
ما درته څو پېرې په شپه کړې
ما ويل چې ته به داسې نه کړې
ماته دې لږې شپې وعده کړې
تا د راحت په غونډۍ واړول کلونه

که يې رهبار که بې رهبار وي
څوک چې په عشق کې وفادار وي
ورځي که سپينې چړې لار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يار په دکن د سړي يار وي
ته له ورېږي غوندې پناه شوې هېر دې کړمه

څه به کوم نصيب مې خوار دی
زړه مې بې ننگ سره ايسار دی
که يې پرېږدم له خدايه ډار دی
سبا مې بيا د کډو وار دی
په سر به پنډې چلوم په زړه غمونه

## د سپينلي، کوډو، تاويذونو او زلفو په اړه ټپيزې

ځان سپېلنی او ما مجمـر که
ځان دې له ځانه رابـــــهر که
خلاص دې په دې خبره سر که
جانانه ما د ځـــان نوکـــر که
تاته کاته به په تنخا حســـابومـــــه

زما پر مينه باور نه کړي
کومه چاره مې دلبر نه کړي
خدای دې راپېښ چرته شر نه کړي
په ما يې کوډې اثر نه کړي
ما هندوانۍ کوډې په خوله خوړلې دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مې ژړا که واوېلا ده
تا ته مې تل په خوله دعا ده
څه لېونۍ برخه زما ده
په ما دې کړې څه بلا ده
په مخ مې غبرګې اوښکې ځي خوله درکومه

مینه کې ډېر دې تاواني شوم
د ښکلا جال کې دې بندي شوم
ښکاري چې عمر زنداني شوم
ستا په دالان کې اثرې شوم
اوس راته دود کړه د غونچو څنګو سرونه

نه یې افسوس نه اسوېلی کړ
په دښمنانو یې غورځی کړ
د تورې وار یې پرې لومړی کړ
ما سپېلنی ورته لوګی کړ
یار مې د تورو په مېدان کې لوبېدنه

دا تورې زلفې مې زېندۍ شوې
چاپېره تاو مې له مرۍ شوې
له ډېره غمه مې سلګۍ شوې
کلې په کلي مې بدۍ شوې
ما زورور کلي ته تېره کړې چې مرمه

اوښکې مې تلې جنازې نه شوې
شونډې مې وچې لندې نه شوې
خیال کې تر دې رانېږدې نه شوې
زلفې مې تاو کړې کږې نه شوې
د مسـاپر لالي پـه سر وو بـرېد مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مې ښایست د ښاپیرۍ دی
اواز مې تللی د ځوانۍ دی
شکر چې زړه مې د زمرۍ دی
د زلفو تار په زر روپۍ دی
زه یې د یار سترګو ته ټولې لوګی کړمه

جینۍ له قهره تکه سره شوه
ښکلې ښایسته لکه منه شوه
تاو لکه شنه سره زرغونه شوه
په تناره لمبه کړه شوه
تر شا یې وسول د اوږدو زلفو سرونه

خلک خو وایي شـهزادګۍ ده
ښایست یې ټول د ښاپیرۍ ده
زه وایم نه ښکلې کـــوچۍ ده
دا سپینه ټنډه دې غونډۍ ده
دا تورې زلفې دې رمـــې پرې پنډې دینه

ورځ به ماښام شي بیا به شپه شي
شپه به له کاله پرې اوږده شي
ورته به ګرانه ګوزاره شي
جانان چې ځي په مخ دې ښه شي
زړه یې زما په زلفو بند دی رابه شینه

ژوند لکه ډک د میو جام دی
د هلکانو نوم بدنام دی
څه وکړم عمر مې ډېر خام دی
د طالبانو سخت نظام دی
چپه کاکل تر خولۍ لاندې ګرځومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مرګ او ناروغیو په اړه ټپیزې

خیر دې که عمر دې خپل لنډ که
تا خو به تل د نیـــــکۍ پنډ که
چا پرښتې درته ځان خـــــنډ که
په تورو خاورې کې دې ځنډ که
وړکیه ! خوشال یې که رخصت نه درکوینه

چې مې له غمه مړ یار نه دی

پاتې مې هیڅ پرې اتبار نه دی

کړی تر دې مې اظهار نه دی

زما یې علم په کار نه دی

د اباسین څپې یې یوسه کتابونه

ګرانه مرګی دې رانه هېر شه
عمر دې شګو غوندې ډېر شه
لکه د شپول رانه چاپـــېر شه
ته له خروړي سپي راتېر شـــــه
له دغې سپینې خولې به زه درتېره شمه

که په یارۍ نه یې پښېمانه

حال مې نو څه پوښتې له مانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناري مې لاړې تر اسمانه

دیدن ته ژر راشه جانانه

د نړېدلي پاڼ په سر ولاړه یمه

مرګ د هر چا په کور مېـلمه دی
که دې زړه دی که دې زړه نه دی
کار پکې جوړ د ببلـتانــه دی
په دې خبره مې زړه ښـــــه دی
چې ښایســـته بد رنګ به ټول خاورو ته ځونه

له دې نه وړاندې مې ژوند ښه و
کورکـــی رنــګ د ببلتـــانـــه و
غم به د مرګ په خوب ویـــــده و
اول مــــې فــــکر درتــه نــه و
اوس مې د زړه ستنې کړې درپسې دینه

ښه هر چا ته دا خـواري ده
که څوک بوډا یا یې ځواني ده
سخته د مرګ بـلابـــدي ده
د ځواني مرګ د شهیـــدي ده
لکه په زېړو ګلو رنګ شـي د بوالونه

دا رڼا ورځ درباندې شپه شه
په مخ راماته دې خـــوله شه
درڅخه پاتې قـــافـــله شـــه
د بهیره اوښـــه دې مړه شـــه
چې ورته کېنې ګوندې زه دریاده شمه

که بې وسي که مجبوري وي
مینه په کار د یوه سړي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورک شه هغه چې بازاري وي
د نجونو زړونه فولادي وي
يو يار يې مړ شي بل ته سترګې توروينه

ښه دې تر دې ژوندګي مه شه
پېښه د مرګ رسوايي مه شه
کمه تر دې دې نيستي مه شه
مساپري دې روزي مه شه
زه دې په سپينه خوله ويده پرېښې ومه

په دښمنانو باندې برید که
ختم د وخت هر يو يزيد که
وطن دې پير ځان دې مريد که
ته په سنګر کې ځان شهيد که
زه به سور شال ستا په مزار وغوړومه

ورک شه ميراث او ورکې شومې
د برې لار کې ډېرې لومې
شته دې ازغي او هم پېچومې
تورې وهه برى به مومې
که برى نه وي ځوانان تل په تورو مرينه

وينو له دارو فوارې کړې
لوړې ژورې يې پرې سرې کړې
ځوړ د سلګيو آذانګې کړې
ټوپکو بيا غاړې کړې کړې
ګوليو يوړل د ځوانانو لړمونونه

که به مې هر څو مره زړه ښه که
خو په ژړا به مې اوبه که
ما يې هوس د ژوندانه که

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان په ګور کې ارمان وکه
په ما را ړنګه شوه د تورو خاورو خونه

څو جنازه یې ګور ته لېږدئ
سر ته یې څنې کړئ سرو بېړدئ
یو څو شېبې یې نور هم پرېږئ
کټ یې په لوړه غونډۍ کېږدئ
وړې خانخېلې به یې ستر ماتوینه

په ښو یارانو تل نازېږئ
د یو بل زړونو کې اوسېږئ
په خوښي خوښ په غم غمېږئ
ملګرو یو تر بل ځارېږئ
ما د مجلس یاران لېدل چې خاورې شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تک سور تنور دې چاپېرچل که
په مخ را خور دې تور وربــل که
رنګ دې د ټــول کلي بدل که
د کلي منځ کې دې اور بــل که
روغ ترې تېرېږي رنځور ځان پرې تودوينه

زړه مې نرۍ نرۍ خــــــوږيږي

وخت له خپل ځايه نه خوځيږي
دا ستا جفا راتــه يادیـــږي
رنګ مې په تا پـــسې زيړيږي
خلکو ته وايم چې زيړي وهلی يمـــه.

ما مې د يار له سره ځار کې
هغه چې دومې ما يې لار کې
ښخ د ښېلتون سترګو کې خار کې
چې يار مې مرې لالا ببمار کې
چې د لالا په بانه يار ته وژاړمه

شپه شپه ولې قتلېږي
لکه د شمعې ويلې کېږي
پوهېږم څه ته هوسېږي
که په ښايست مې خفه کېږي
نور به د زمکې خوب کوم چې ژېړه شمه

د زيارت مالګه له مور غواړي
ځان په شړۍ کې رانغـــاړي
د لېوني په خېر ځـــان داړي
هلک موچې چیچلــې ژاړي
جينۍ ښامار خوړلې شنه له خندا شينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښېرا، ازار او موذي په اړه ټپيزې

ښه دې تر دې زندګي مه شه
پېښه د مرګ رسوايي مه شه
کمه تر دې دې نيستي مه شه
مساپري دې روزي مه شه
زه دې په سپينه خوله ويده پرېښې ومه

په دوارو سترګو مې ړنـده کې
له دې نه ښه ده چې مې مړه کې
يا مې د پلار په کـــور زړه کې
د بهيرزن ښځه مـــې مـــه کې
سره ډوډۍ خوري سر په تــيرۀ لګوينه

دا رڼا ورځ دربانديې شپه شه
په مخ راماته دې خـــوله شه
درځخه پاتې قـــافـــله شــه
د بهيره اوښـــه دې مړه شــه
چې ورته کېنې ګونديې زه درياده شمه

پاتې زما تر دې ښېرې شــــې
وروسته تر دې ابرې ابرې شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د حُجرې نه د دېرې شـــــې
چیلمه مات ټوټې ټوټې شــــې
مین په ما دی غم په تا غلـــطوینــــــــــــه

د پښتونخوا زړه بختوره
عظمت دې ډېر دی تر خیبره
ځوانان دې واړه کړل بې سره
آخر به وران شي پېښوره
د ننګرهار جونې ښېرې درته کوینه

واړه ښایسته د ګل په څېر کې
هر یو مین ته یې بې شمېر کې
د هر چا زړه ته یې ورتېر کې
خدایه ښایسته په دنیا ډېر کې
که یاري نکړي تش دیدن یې خوند کوینه

هره انجلۍ د وطن زوی کړې
ښه غیرتي یې ته رالوی کړې
په شهامت باندې یې پوی کړې
زلمو سنګر کې وینې توی کړې
پېغلې رندې کړې چې کونډتوب نه قبلوینه

مات به د عشق نور کچکول کړم
تاو به له زړه د صبر شپــــول کړم
مینه به پس دې په تــــــول کـــړم
زرې زرې زړه به راټـــــــول کـــړم
بیا به په نوم د یارانــــې ســــړی رټمــــــه

د ګوتو څوکو باندې لاړه
کاینات ګوري ورته واړه
ویې ترل لاســــــونه دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې لیلا په لمونځ ولاړه
قبول یې مه کړې تور وربل پر خاورو ږدینه

چې مې له غمه مړ یار نه دی
پاتې مې هیڅ پرې اتبار نه دی
کړی تر دې مې اظهار نه دی
زما یې علم په کار نه دی
د اباسین څپې یې یو سه کتابونه

درته راغلی یم په مینه
د زړه په سر مې ټوله وینه
نور یې پرېږده چې هر څه وینه
ولې مې نه وړې اباسینه
له شودو سپینه دې په سر روانه یمه

ژوند ته مې نور هم جوړ فسات وای
د ګلو باغ مې دې میرات وای
نه مې غوښتل چې ژوند مې زیات وای
قلم ځنځیر وای مابه مات وای
په قلمي ځنځیر ویلي دي مېخونه.

شونډې مې ګوره وچې سپورې
خوښــې مــې نه وایې ننګورې
ډوډۍ دې څه باندې کړه پورې
توتان پا خــه ګورګورې تورې
زه د موذي د ســو کړک څــه پروا لرمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ستمونو کې ناکام شول
ظلم و ستم باندې بدنام شول
ځوړند په دار لکه صدام شول
چا راته ویل موذیان تمام شوله
زما د برخې موذي شته ما ځوروینه

ستا به شمله ستا به پټکی شم
زه به دې مینه شم زړگی شم
تاته به گل بل ته ازغی شم
د ربابه به دې ځوندۍ شم
چې ورمې نه کړې بازینگرو په لاسونه

اوتر اوتره پورې لاړم
تر هره دره پورې لاړم
سپېره خیبره پورې لاړم
تر پېښوره پورې لاړم
چې چېرته چتې دي موذیان یې زړوینه

د مرگ په خوب باندې ویده دی
پوی په رموز د مینې نه دی
له دې نه بد ژوندون نور څه دی
له موذیگي نه ماشی ښه دی
چې نیمه شې لټ په لټ مې اړوینه

له ازغو ډکه زما غېږ ده
مورکۍ دې نوره مه رالېږده
په زړه دې غشه تیره کېږده
د جگې تیږې ناستی پرېږده
ځان به اوبه کې ما به نه مومې مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یار، یاري، اشنا او جانان ټپیزې

اشنا دې یو خو وفادار وي
نه چې د سلو تنو یار وي
چې دې سبا په اوږو بار وي
د یو زړګي نه بل ته لار وي
چې زما خوښ یې ستا به ولې بدا ښسمه

زړه مې بې ځایه اوس درزا کړي

خدای به یې یوه ورځ راپخلا کړي

دغو مره ناز خو به اشنا کړي

یارانه هله خوند پیدا کړي

چې کله کله جدایي پکې راځینه

خدای خبر څو مره بې وفا یې

چې نه پر ځان یې نه پر ما یې

خدایزده د چا پر مینه پایې

په لوړو غرو رانه پناه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوس مې که یار یې نو رالېږه سلامونه

نور جګېدای نه شـــم له ځایه
بس یادوم به یې له ورایـــــه
شپه ورځ یې غواړمه له خدایه
په ښکلي یار مې سلام وایـــه
د غریبۍ مې ورته مه وایـــه حالـــونه

خوښه په دې یم چې ژوندی دی
څو که نادان دې لـــېونی دی
زما په ټول جهان کـــې دی دی
یار مې د زړه په سر ازغی دی
نه یې ایستی شم نه یې درد زغملی شمه

مین سړی ډېره خطـــا کړي
په بېلتـــانه کې چې ژړا کړي
ځان په تمام جهان رسوا کړي
یارانه هله خوند پیدا کړي
چې کله کله جدایي پکې راځینـــــــه

په زړه سوری پرهار دې زه یـم
نهیـــــلی زه، آزار دې زه یـــم
بیا هم د غم غمخوار دې زه یم
د تهمتـــونو یار دې زه یـــم
د پټاسو دسمال دې بر کلي تـــه ځینه

زړه دې د غره په شانې بار که
لکه فرهاد غرونه هـــوار که
جوړه د هر چا زړه کې لار که
دنیا د یـــار له سـره ځار که

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دنیا به تل وي یاران کلـــه کله وینه

په ژوندانه به خـوار و زار وي
تل به په غم کې را ایســار وي
بس ګیله من به له خپل یار وي
که د چا روغ زړګی په کار وي
زمـا دې واوري یارانه دې نـــه کوینـــه

اوســـم یې تل په انتــــظار کې
فرش به بانـــــه کړم ورته لار کې
کیسې یې خوند کړي په تلوار کې
ما له کوچنــــي رېباره ځار کې
د یـــار یوه خـــبره دوه واري کوینه

واورې وریږي موســم یخ دی
چرته به وي زړه کې مې ښخ دی
زما په دې باندې ډېر خوښ دی
د یار مې چوخي چوخي مخ دی
چې لږه لویه شم غـــــمي به پکې ږدمـــه

ښه په جـــذبې مې ورته ووې
د سپینې خولې مې ورته ووې
د یوې وعـــدې مې ورته ووې
د یارانـــې مـــې ورتـــه ووې
جینۍ وړه وه رنګ یـــې زېړ وتښتېدنه

ما خو که کړله ما لــه زړه کړه
هره چاره مې ستا په خوله کړه
تا هغه لوظ وعده د څـــه کړه؟
یاري خو تا کړه ما خو نـــکړه
اوس یې چې لنډه پرې کوې ژړا راځینه

په دې خو نه چې د بل چا دی
زما له غــــم نه بې پروا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په روا یـــا نـــا روا دی
جانان زما په ســـر باچا دی
که لاس ترې واخلم د دوهۍ ملنګ به شینه

لکه غمونه د جهان دي
ستوري شمارل د ټول اسمان دي
پکې دردونه پریمان دي
د یارانې کول اسان دي
جانانه ګرانه ده د یار د زړه ساتنه

اول دې زړه سره سلا کړه
که یاري کړې یاري صفا کړه
مه یې په ډار مه یې په غلا کړه
ماته پرېکړې ځواب راکه
زه دې د بل له یارانې ایستلی یمه.

بېړۍ د صبر مې ډوبیږي
ورځ چې په ورځ پسې تېریږي
زړه مې پر تا لا مینیږي
ستا یارانې ته مې زړه کیږي
خو نا چاري مې پر خوله ایښې دي لاسونه

لکه غمونه د جهان دي
ستوري شمارل د ټول اسمان دي
پکې دردونه پریمان دي
د یارانې کول اسان دي
جانانه ګرانه ده د یار د زړه ساتنه

اول دې زړه سره سلا کړه
که یاري کړې یاري صفا کړه
مه یې په ډار مه یې په غلا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته پرېکړې ځواب راکه
زه دې د بل له يارانې ايستلی يمه.

ببړی د صبر مې ډوبيږي
ورځ چې په ورځ پسې تېريږي
زړه مې پر تا لا مينيږي
ستا يارانې ته مې زړه کيږي
خو نا چاري مې پر خوله ايښې دي لاسونه

په ښو يارانو افتخار که
زړه دې لېمڅی ورته هوار که
په يارانه يې اعتبار که
دنيا د يار له سره ځار که
دنيا به تل وي ياران کله کله وينه

په تورو غرونو ږلۍ راغله
له ډېره غمه سلګۍ راغله
نوره مې ساه تر مرۍ راغله
د اسمان منځ ته سپوږمۍ راغله
بې ياره خوب نه وي که ماته نه راځينه

له يارانې مې په شا نشې
چې راته سر په ښبرا نشې
په دې کيسه وار خطا نشې
چې په کور نه وم ته رانشې
درته به لار په بڼو څوک جارو کوينه

اخ څومره بد يم څومره ښــــه يم
ستا د پېښو خاورې يم رانجه يم
په زړه سوری دې بېلتانه يــــم
کله به يم کله بــــه نــــه يــــم
زما ياري په رنګه مه شمېره مېـــــــــــــــــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښو يارانو تل نازېږئ
د يو بل زړونو کې اوسېږئ
په خوښي خوښ په غم غمېږئ
ملګرو يو تر بل ځارېږئ
ما د مجلس ياران لېدل چې خاورې شونه

د بې رخۍ تله درنه شـــوه
په غم ککړه دوستانه شوه
تر خپل مطلبه يارانه شـوه
عالمه ټګه زمانه شـــــوه
يار ته لستوني ورکوي منګول ساتينه

## د بېلتون، هجران او جدايي ټپيزې

زړه مې بې ځايه اوس درزا کړي
خدای به يې يوه راپخلا کړي
د غومره نازه خو به اشنا کړي
يارانه هله خوند پيدا کړي
چې کله کله جدايي پکې راځينه

د بېلتانه ظالم حملې وې

ته رانه تلې زما ګېلې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکه اشنا خولې خولې وې
پرون لا دا مهال دلې وې

نن به دې توري زلفې چرته باد وهينه

دنیا کې بد ژوند د هجـران دی
که څوک هندو که مسلمان دی
دا عقیده دا مې ایـــمان دی
بې د جانانه عمر ګـــران دی
په دریابونو کرښې چا راښکلـــــې دینه

له دې نه وراندې مې ژوند ښه و
کورکــی رنــګ د بېلتــانــه و
غم به د مرګ په خوب ویـــده و
اول مــــې فــــکر درتــه نــه و
اوس مې د زړه ستنې کړې درپسې دینه

هسې به ځان لره غـــم ډېر کړم
په تش هوس به عمـــر تېر کړم
په مصیبت کې به ځان ګېر کړم
که د شودو لــښتي ورتېر کړم
خزان ځپلی باغ مې نه نیـــسي ګلونه

دنیا کې بد ژوند د بېلتون دی
هر یو مین ته زړه چاودون دی
ځار له وصاله ټول سکون دی
نن مې د یار پر لوري یون دی
خدایه رالنډ کړې دا د مځکې تناوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که شازادګۍ که ښاپېرۍ یم
څومره سپېره په دنیاګۍ یم
په چا ویارم؟ لېونۍ یم
ورور مې ټوپک زه یې ګولۍ یم
په تورو غرو مې اړوي ژړا راځینه

زما درکړې مینه راکه
زما د حُسن حق ادا که
مرور خیال مې راپخلا که
د سترګو ټول نظر پما که
لکه ویشتلې مرغۍ ببله ناسته یمه.

د عاشقانو دې خدای مل شي
د بېلتانه په ژرنده دل شي
له روغ سرې نه جوړ پاګل شي
لرګي چې دوه شي اورې پرې بل شي
بېګاه په ما غریب یو ازې بلېدنه

مرور یاره راپخلا شـــــه
لږ مې زخمي زړه ته دوا شه
د هجر شپو ته لږ رڼا شـــــه
یو ځلې بیا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونــــــه

کاش چې زما په څېر دې زړه وای
بـــــس لکه موم لکـــه اوبـــه وای
غټ دومره ډېر لکـــه د غره وای
یا مو لـــــیدلي ســــره نـــه وای
یا مو دا ټـول عمر په یو ځای وای میـــــنه

کلی مالت دې لیدی نه شم
رسم و رواج نه وتی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم نه دې نور لېونی نه شم
کور ته له شرمه درتلی نه شم
لرې پوښتنه له وړو وړکیو کومه

له یارانې نه مې منکر شو
په اوتو بوتو باندې سر شو
په غمازانو جوړ اختر شو
یار مې په کټ کې مرور شو
د زنې سر پسې چاپېره ګرځومه

زړګی مې وینې شو اوبه شو
زره زره له بېلتانه شو
په کار مې رانغلو د غله شو
آرام د زړه مې پرې ونه شو
که مې له سترګو نه سرې وینې تویومه

مینه د سترګو طراوت دی
عشق یو سپېڅلی بغاوت دی
حیف چې بېلتون لوی مصیبت دی
په جینکو کې دا عادت دی
لوګی بانه کړي ژړا یار پسې کوینه.

د مینې او مین په اړه ټپیزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک چې مین شي نو پاګل شي
له خپل حالت څـــخه بدل شـــي
خس يې په ګيره کې وي غل شي
زما په سترګو کـــې دې ګل شي
که زه به يې ستا پـــه مينه بل ته غړومه

ژړا د زړه خنـدل د سترګو
دعا د زړه کنځل د سترګو
ګناه د زړه ژړل د ســـترګو
مينه د زړه ليدل د سـترګو
لاس اچول خو د کم عقلو خـــلکو وينـــــه

سترګې له سترګو نه شـــرميږي
زړه دې د سکور غوندې توريږي
ياري نو داسـې کله کيــــــږي
مينه دې ورځ په ورځ کميـــــږي
ښکاري زما له يارانې اخلې لاســـــونه

چې مين نه وي نو به څـه که
په بې غمۍ دې ځان اوبه که
بچ دې له درده ځنـــې زړه که
لا مين نه يې ښه خـوب وکه
که خدای مين کړې بيا به نه درځي خوبونه

وړاندې تر تا چې زه مين وم

د ډېرو خلکو به دښمن وم

بيا هم کامياب وم بريمن وم

زه د سپندونو لامبوزن وم

په تا مين شوم د ويالو اوبه مې وړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته هسې وايې چې ګنـډه پر دی
داسې خو مه وايه چې تېر دی
د مينې عمر مو لا ډېـــــرٍ دی
اول اول و ، اوس اخــــــر دی
اول که نه و اوس ميـــن درباندې يمــــه

ما درته نه ويل چې دعا کړه
هله شه مور پلار يې رضا کړه
اوس مه ازار کړه مه ښېرا کړه
مورې بوړی ټوپک مې راکړه
په ما مينه نجـــلۍ بل ته ورکوينـــــــه

چې مين نه وي نو به څـه که
په بې غمۍ دې ځان اوبه که
بچ دې له درده ځنـــې زړه که
لا مين نه يې ښه خـوب وکه
که خدای مين کړې بيا به نه درځي خوبونه

تا چې د حسن ځان نوکر کړ
ځان ته دې پېښې پخپله شر کړ
کلی دې ټول په ځان خبر کړ
جانانه ښه شوه ټس مې درکړ
ته مې مين کړې زۀ کراره کېناستمه

روح د مين پسې تو سيرې
ګلان په بوټو کې رژريږي
لکه ږلۍ پر زړه وريـــږي
خندا له تا سره ښايـــيږي
چې اننګي درته ځلور ترازې کړينه

زما غريب پکـــــــې تاوان دی
نن شپه که زمکه که اسمان دی
بس خو رڼا يې ټول جهـــــان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ پر ما دې څه احسان دی
د کوکۍ غل یم د بلۍ ســـیوري کې ځمه

لکه نینـــه دا ســـې ورتېږم
د مینې اور کې دې سوځېږم
یاره نه مـــرم او نــــه رغېږم
په لاره ځم تېوله شرنګـــېږم
ستا د تهمت ځنځیر په غاړه ګرځومه

پوی شوم اشنا څومره سپېره یم
ستا د پښو خاورې یم رانجنه یم
که هر څۀ یمه، هیڅه نه یم
د تهمتونو یار دې زه یم
د پټاسو دسمال دې بر کلي ته ځینه

ته وا په مینه د دوی پایي
ښایي که نه ورسره ښایي
ورته له مینې لالا وایي
چې خوبندې کیني ورونه ستایي
چې ورونه کیني خوبندې بل ته ورکوینه

په صبرولو نه صبریـــږي
زړه د مین په اور سوزیږي
په دریابونو ورګډیـــږي
نرۍ نرۍ باران وریــــږي
جنۍ پایځې راجګوي یار ته ورځینه

ګوره د پور خبره نه ده
دا د پېغور خبره نه ده
د سپین او تور خبره نه ده
مینه د زور خبره نه ده
که زړه دې نه وي بیا دې نه مجبورومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پېغلتوب، ځواني او ښکلا په اړه ټپيزې

زړه مې ډېره وي اوبه شي
واړه خواړه راته تراخه شي
ګرم خواږه رانه ساړه شي
چې پېغلتوب مې راپه زړه شي
کنډول مې هېر شي په شکاره کې خوشتومه

خپل پېغلتوب به ترېنه ځار کړم
ورته به سترګو کې اظهار کړم
نور به مې هر هوس په دار کړم
د طالبانو مير به يار کړم
تر کندهاره به مې ټول لېورونه وينه

نن يې په سترګو اظهار نه که
نن مې د يار زړګی اوبه که
نن مې پخپله زړګی ښه که
د مينې تول مو سره وکه
په يار يوه ګوته زه زياته وختمه

چې پر کاله وه نو چا څهٔ کړه
کومه چاره يې چا په زړه کړه
تل يې سودا د ژوندانه کړه
د نجونو ميره يې واده کړه
اوس به په سرو ګوتو نو څوک چمبه وهينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري په زړه باندې ډېر کلک دی
ځکه خوراک يې وچ سـو کړک دی
په خوله خو نه ده چې چـابک دی
پلار يې د ټول کلي مـــلک دی
لور يې د سوال په رنجو سترګې توروينـه

شپېې د مرګ دې نه وي لنډې
وهم دې شپې او ورځې منډې
وهي دې خلک په ما ملنـــډې
خدای دې زما که غونډې منډې
په سر به پنډې چلوم تابه ساتمــــــــــه

دنګه ځواني زما د خــوښــې
د يارانې دې ټـــولې نـــښې
درپسې ويلې مې شوې غوښې
زما خـالــونه دا ستـــا زخې
زما خو خوښ يې وايه تا تــه څنـــګه يمــه

په دې خو نه چې د بل چا دی
زما له غــــم نه بې پروا دی
که په روا يــا نــا روا دی
جانان زما په ســـر باچا دی
که لاس ترې واخلم د دوهۍ ملنګ به شينه

په محبت کې څومره زور دی
څه وکړم ماته خو پېغور دی
کلی وطن راته سور اور دی
د يار مې پېغله خور په کور ده
نيستي د ورور ده چې بدل ورسره شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه په سر مې ازغی مات دی
نم مې د سترګو دومره زيات دی
يوه دجــــله بلـــــه فـــرات دی
حسن دې کم ظلم دې زيات دی
خلک د حسن مطابق ظلم کوينه

زړګی دې يوړو لاړې پېغلې
خولې کې مې نشته لاړې پېغلې
لاړم د مرګ تر غاړې پېغلې
په تناره ولاړې پېغلې
ډوډۍ دې نه خورم د ديدن وږی دې يمه

له دې نه نور به په ځان څه وړم
غټ غټ غمونه مې په زړه وړم
بار لکه غر د بېلتانه وړم
په سر نرۍ لوپټه نه وړم
ستا د دا دا درنې درنې خبرې وړمه

تر ګل ښايستو کی سړی نشته
ته وا د هيچا زړګی نشته
ټول ګيدړان دي زمری نشته
کلي کې يو لېونی نشته
شينکی پرتوګ مې په ورنو خوله لګوينه

په نه خبر باندې خـــفه شوې
لږه شېبه کې تکه ســـره شوې
خپلو خولو باندې لنده شوې
د کافر ګل په شان کږه شوې
چې راسمېږې نيـــمه ورځ به تېره وينـــــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نس نهار پوزی دې نـــه وي
اورونه مړه لوګی دې نـــه وي
لنډه په دې يو شی دې نـــه وي
ستا د ښايست کمی دې نه وي
که د غنمو قحطي وي تـــږه به شيــــــنه
يو کال دې نور هم انتظار شم
نه دې عاشق او نه دې يار شم
کاش که تر منځه مو رېبار شم
تر دا کټ کټ خندا دې ځار شم
لکه ماشين چې پر بخـــمل وچلـوينـــــه

جانانه ځنګ ته مې درپرېږده
لـــکه ډنډر جګ دې ورمېږده
لکه ګلاب پســته دې غېږ ده
په چيلم دوه سکروټې کېږده
لکه دوه بنې په سيالي خولې ورکوينه

خوشبو يې راوړله هوا شــوه
وطن يې سپين کړلو رڼا شوه
پاڼو چکچکې کړې شنا شـــوه
د سپينو غاښو دې برېښنا شوه
چا ويل ږلۍ ده په تـــيرا يـــې وروينـه

نه د نږدې يم نه د ورايه
شپه ورځ دې غوارمه له خدايه
زړه به مې وچوي بې ځايه
د سپينې خولې قيمت دې وايه
چې سر مې ستا شي نور به څومره پاتې شينه

خمار يې سترګو کې ځليږي
لکه باران ترې راوريږي
د سړي زړه ګناه ته کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلان چې مړاوي شي رژيږي
سترګې چې مړاوې شي نو کلي ورانوينه

## د ټپيزو غزېدلې بڼه

داسې خو نه چې به مې هېر و
زما به زده وه که به تېر و
شپول د مازغو مې ترې چاپېر و
اول مې شوق د سبق ډېر و
په تا مين شوم اوس سندرې يادومه
لکه توتي وړې خبرې يادومه
خوږې خوږې لکه شکرې يادومه
اوس سارايي شوم لرې برې يادومه

لکه د شپې چې جګ شي مړی
وي د ژونديو پوروړی
ځان يې راټول وي لکه پړی
سپوږمۍ د خدای روی مې دروړی
د دوو مينو تر منځ مه وره مشالونه
ځولۍ ځولۍ درته کومه دا سوالونه
په عاشقانو باندې مه کوه ظلمونه
درته جوړه مې دي نيولي خپل لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانې وينې ترې ويالې شه
زهر دې اوښکې او خولې شه
کمې دې اور ته فاصلې شه
سپينې ماڼۍ دې کنډوالې شه
زما يادېږي د کېږدۍ يخ شمالونه
د خړ شپونکي د شپېلۍ مست مست اوازونه
تورې بيزې او خړې مېږې برګ پسونه
کورت او غوړي د پاچايانو خوراکونه

## ټپيزې

لکه نينه په اور وريتــــېږم
په صبر صبر خاورې کېږم
له تشريفاتو نه تــــــېرېږم
په مناسب دې نه پوهېږم

چې دې په کوم غومبوري خوله ولګومه

چې مې په خپل زړه کې کرلې
څومره مې يوړلې کنځــــــــلې
کاش چې مې هيڅ نه واى ليدلې
زما د زړه د ســــــر غنــــدلې
پيدا له بل يې زړه زمــــا درپسې چوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي تر څو به جام ته ناست يم
پوهېږې کوم انجام ته ناست يم؟
د خپل جنون دوام ته ناســت يم
ستا د ديدن ماښام ته ناست يم
زما روژه به تر قيامته پورې وينــــــــه

دا چې مې حال ويلــی نه دی
ما دې بېلتـــون ژړلی نه دی
زړه مې ګوګل ته تللی نه دی
لا مې ارمان ختلـــی نه دی
لاسونه پورته غاړه بيا راکه ميـــــــنه

ها چې زما پرې اعتبـــــار دی
اوس درته وايم څوک مې يار دی
څوک وفادار څوک جـفا کار دی
غم دې له تانه وفـــــادار دی
ته کله کله غم دې تل راســـره وينـــــــه

دا تور کارغان به مهاجر کړي
په غر غره به رڼــا لــمر کړي
ټيټ به د ونو پښو ته سر کړي
خاوند به خپله مازديګر کړي
د تورو غرو سرو تــه مـــه ګـــوره مٍينه

زړه خو هغه و چې غلو يوړو
چا د ښو پــــه چـــړو يـــوړو
رانه يې لرې پــه شـــپو يوړو
پېزوان مې خړو اوبـــو يوړو
په غمشريک لاليه نيسه ګودرونه

راسره نشتـــه يار په خوا کې
جوړې مې شوې په زړه تنها کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل یادوم یې پـــه زړا کـــــې
اوښکې ناولې دي که پاکــې
زما په څیرې ګرېوان ځي لمـــونځ پرې کومه

واړه په ما بانـدې ډېر ګران دي
که یې ملیـــان که یې چڼیان دي
خو کیسه داده چې ډېر وران دي
طالبـــان واړه لــېونیـــان دي
له وظیفې سره مې ګوتـــې تــــاو وینه

د شپې له غېږې را ایله شو
د کلي سر کې را ښکاره شو
د شنه اسمان په ننداره شو
د لېوني ارمان پوره شــــو
په لاره ځي په کاڼو ولي زیــــارتونه

کومه خطا چې انسان وکړي
بیا ګټه څه که ارمــان وکړي
ولې په بل چا ګومـان وکړي
څوک چې په خپله په ځان وکړي
نه دې ګېلې کړي نه دې اوښکې تویوینه.

یاره په ما خو نه ده زیاته
دا مې ساتلې تولــه تاته
هم له خیرات هم له زکاته
په سپینه خوله کړه روژه ماته
د کفارت روژې بــه دواړه ونیسونه

ځان سپېلنی او ما مجمـر که
ځان دې له ځانه رابـــــهر که
خلاص دې په دې خبره سر که
جانانه ما د ځــــان نوکـــر که

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاته کاته به په تنخا حســـــابومـــــــه

ایله چې اوس مې خوا سړه شـــوه
راته رایاده ښـــه پلمـــه شـــــوه
مور تـــه مــــې جوړه بهانه شــــوه
خولګۍ مې ستا په وینو سره شوه
مور ته به وایم ما انار خـــوړلي دینــه

ښخې په زړونو کې چړې کړې
ته چې بانه لشې لشې کړې
ټول به د ځان په تماشې کړې
چې لو کوې ګوتې به پرې کړې
پلار ته دې وایه چې لوګري واچوینه

زه به څۀ وایم چې څه را که
زړه مې درکړی دی زړه راکه
مرمه له تندې اوبه راکه
ځانګې راټیټه شه خوله راکه
که زه درپورته شوم راماته به دې کړمه

ستا په یارۍ به څه ویاړم
خندا مې نشته ده تل ژاړم
زړه مې درځي که ځان رانغاړم
په پالیزه کې به دې غواړم
د کلا برج ته راختی نه شې مینه

تش د دیدن لانجې دې نه دي
په نه خبر غوسې دې نه دي
لنډې اوږدې وعدې دې نه دي
یوه دې نه ده، دوې دې نه دي
زه دې په کومه خطا خاورې واړومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لشې لشې تېره بانه وړه
لکه سېلاب په مخ هر څۀ وړه
د عاشقۍ پښتې په زړه وړه
ناز د بې نیازو خلکو مه وړه
قدم زما په سترګو ږده چې ناز دې وړمه

خاورې ایرې زما خوارې شوې
پر سر دې تېر هزار بدې شوې
څومره بې ننګه بې سیالې شوې
د ګلو باغه سرکارې شوې
نه دې سرکار خورې نه دې ماته راکوینه

خیر د د بدن احسان پر ما که
نن خو دې مینه په رښتیا که
نوره مې ختمه دا سودا که
دیوال سورې که لاس دې راکه
پلار مې خټګر دی بیا به جوړ کړي دېوالونه

بویه چې غشي دي شمشېر دي
جانانه ټول د شپول په څېر دي
له تورور سترګو دې چاپېر دي
سترګې دې دوه بانه دې ډېر دي
لکه دوه خوبندې چې د ډېرو ورورنو وینه

مابه کول که چا به نه کړل
وړۀ به مې شین سهار لانده کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

باغ کې ګلان به مې اوبه کړل
په ما دې پښې لاسونه سرۀ کړل
د نغـري ایـرې به څوک جارو کوینه

تا بده ورځ نه وه لیدلې
نیستي دې پرې کړې د زړه ولې
ځار له سیالۍ یې وا ښستلې
ته مې خطه ته زور ېدلې
له پرتاګه مې ګونډې ووتې مینه.

ته وا یوازې د دوی خدای دی
هم یې مځکه ده هم سرای دی
د هر سړي زړه کې زړه سوی دی
ښار د بې غمه خلکو ځای دی
په غم ککړ خلک په غرو کې شپې کوینه

په لمر خاته ولاړه ګله
قربان سپېره ولاړه ګله
زما پر زړه ولاړه ګله
پاس په کمره ولاړه ګله
نصیب د چا یې اوبه زه درخېژومه

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**